کاندیدای اکادمیسین سیستانی ۲۰۰۸/۰۱/۲۵م

"طالبانیزم" د "اخوانیزم" د سکی بل مخ
او زموږ وطن ته لوی مصیبت

« اخوانیزم» (د مصر داخوان المسلمین بنیادگرائي ایدیولوژي) پدیده زموږ په هیوادکي دشلم قرن د نیمائي څخه را وروسته دهغو افغاني محصیلینو په واسطه چي د تحصیل دپاره مصرته استول سوي وه، راوړل سو. دمصردجامع الازهر دپوهنتون دفارغانو څخه یوهم برهان الدین رباني و چي داخوان المسلمین دغړیتوب ترلاسه کولو وروسته هیواد ته راغي(۱۹۵۹) اوبیا په افغانستان کي د (برادران مسلمان)یا(جمعیت اسلامي) دگوند تهداب کیښود. دي او د ده ملگرو ، خپل فعالیتونه د دموکراسي په لسیزه کي شروع کړل . د دي گوند د وحشت او دهشت اچوني موضع گیري هغه وخت کابلیانوته په داگه سو چي دوي دښځو اوانجونو پر مخ داسید(تیزاب) پاشلو څخه کارواخیست ،یا د چړو په واسطه ئي د ځیني چپي محصلینو نسونه ځیري کړل .
د دغي افراطي حرکت نمایندگان زموږ په هیواد کي درباني جمعیت اسلامي، اودحکمتیار دحزب اسلامي او دقاضي وقاد او یونس خالص اسلامي حزبونه دي چي دخپل قدرت په دوران کي (۱۹۹۲- ۱۹۹۶) ئي د وطن بیخ او بنیادي وایست او د قدرت دساتلو یاترلاسه کولوپه خاطر ئي د کابل تاریخي ښارئي په کنډواله بدله کړل . دکابل په ښار کي دخلکو پرمال، او ناموس باندي تیري ،شخصي کورونه اوجایدادونه ، دولتي او ملي تولي شتمني داسي چوراو تالاسوه چي په تاریخ کي ئي ساري نه درلود. نژدي ۶۵زره بیگناه خلک د دوي دخپل منځي جنگونو په نتیجه کي شهیدان سول، او یوخل بیا د افغانستان بیوزله خلک مهاجرت ته اړ سول . ترڅو یوه بله نوي او بیساري افراطي ډله د طالبانو په نامه د دغو وحشي اخوانیانو دمینځه وړلو په خاطر دپاکستان څخه را ایله سوه او دوي وکړاي سول چي په ډیر چټکي سره ،دد و کلونو په ترڅ کي درباني او گلبدین ډلي د وطن څخه وتښوي او خپل سیاسي او نظامي قدرت دافغانستان پر ۹۵ فیصده خاوره خپره کړي. خو دطالبان دریځ دښځو په مقابل کي دزغم او تحمل وړنه و. دوي پخپل قول او عمل تر اخواني ډلو ډیرزیات صادق اوساده خلک وه، په سیاست باندي د دوي سر نه خلاصېده ، خو دپاکستان دنظامي استخباراتو تر اثر لاندي ئي سیاسي چاري پرمخ بیوتولي ،خودافغانستان دجامعي دپاره دغه افراطي ډله هم دتحمل وړ نه وه. د طالبانو یوه لویه بد چانسي دا وه چي د دوي دقدرت په وخت کي اسامه بن لادن(دسعودي عربستان مغضوب) افغانستان ته پناه راوړل . بن لادن چي په سیاسي لحاظ تر طالبانو ډیري تجربي درلودي، وکړاي سول چي خپلي اغیزي دطالبانو پررهبري ډیري کړي، آن تر دي حده کله چي امریکا د بن لادن د تسلیمیدو غوښتنه وکړه دوي د هغه دتسلیمیدو څخه ډده وکړه او په نتیجه کي دسپتمبرحادثه په امریکا کي واقع سواو امریکا ته بهانه پلاس ورغلل چي د طالبانو دنسکورولو دپاره د۳۷ هیوادونو په گدون پرطالبانو باندي وروداگي او دوي د افغانستان څخه ایسته کړي .
خو دا دواړه ارتجاعي حرکتونه یعني "اخوانیزم" اوهم "طالبانیزم" دبنیادگرائي دسکي دوه مخونه دي .او زموږ په وطن کي خارجي پدیدي دي ،نه داخلي . پخوا یعني دشلم قرن د نیمائي څخه هاخوا موږ دغه دواړي ناوړه پدیدي پخپل هیوادکي نه درلودي،خو دظاهرشاهي د دموکراسي په لسیزه کي اخوانیزم مخ په غوړیدو شو، او د افغان - شوروي دجگړي په دوران کي د امریکي او سعودي عربستان او نوروهیوادونو په مرسته په منطقه کي په یوه لویه آفت بدله سو. د دي لوي آفت په بطن کي تر ټولو یوه خطرناکه نطفه په جوړید و سوه ، چي دامریکا او پاکستان دتوجه اومهرباني له برکته "القاعده" ځیني وزیرید. او دغه نا مبارکه مولود په امریکا کي دسپتمبرد۱۱نټتي دفاجعي سبب سو.
خو دمخه چي دا حادثه په امریکا کي ترسره سي ،یوې بلې منحوسې پدیدې د طالبانوپه نامه په پاکستان کي سر راپورته کړ چي تر اخوانیزم ډیره خطرناکه ثابته سوه. دا پدیده یوه وهابي- پاکستاني پدیده ده چي دپاکستان د استراتیژیکي سیاست دتحقق په خاطر یعني دافغانستان ډیورند دکرښي دلانجي دختمولو په منظور او دهند څخه دکشمیردغج اخستلو په هدف مینځ ته راغلي ده. په بله عبارت طالبان اوطالبیزم، دپاکستان او دسعودي عربستان د یوځاي کیدوپه نتیجه کي دپاکستان په بطن کي وروزل شو او په تیره لسیزه کي (۱۹۹۴) وزیرید چي اوس په یوه

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

لويه بلا بدله سوئ دي ، چي هم زموږ هيواد او هم په خپله پاکستان اوبيا ټوله جهان ور څخه په عذاب اود خطرسره مخامخ دي .
د بي بي سي دمنځني ختيځ دسياسي مسايلو تحليلگر ،"راجر هاردي" د وهابيت د اصلي هدف دڅيړني دپاره سعودي عربستان ته په ۲۰۰۷ کال کي د دوو مياشتي دپاره سفرکړي و. دي د "لورنس رايت" دخولي څخه چي دالقاعدي په باره کي ديو کتاب په ليکلو سره د"پوليتزر" جايزه تر لاسه کړي دي،وائي:" د وهابيت جوهر، اصالت دي "(جوهر وهابي گري اصالت است.) دده په قول:"دوي(وهابيان) په اصل پسي دي .او دا هغه شي دي چي د دي سبب سوئ دي چي دوي ډيرکلک افراطي عمل وکړي . "(آنها (وهابيها) بدنبال اصل هستند؛ و اين همان چيزي است که باعث مي شود آنها بسيار سختگيرانه عمل کنند.) هاردي علاوه کوي په ۱۹۸۰ لسيزه کي په افغانستان کي د شوروي اتحاد پر ضد جهاديانو ته دسعودي دولت مالي مرستو ،دامريکي اونورو هيوادونومرستوپه نتيجه کي اسلامي بنيادگرايي خپل لوړترين حد ته ورسيده . چي دافغانستان جگړه د دي نطفي د پيداکيدو سبب سو چي وروسته "القاعده" ځيني را وزيږيد.
راجر هاردي دحسن الملکي، دسعودي دولت دښوني او روزني متخصص ،دخولي څخه وائي :" ده ماته وويل:" موږ خپلو شاگردانو ته داسي درس ورکوو،هرڅوک چي د وهابيت سره مخالفت وکړي يا کافر دي، يا د سمي لاري څخه منحرف سوي دي ، بناپردي بايد يا توبه وکاږي او کنه و وژل سي ." (بي بي سي، ۲۳ سپتمبر ۲۰۰۷)
دپاکستان دتحقيقاتو دموسسي د ارزيابي پراساس، اوس اوس په پاکستان کي تقريباً لس زره ديني مدرسي د ۱/۵ ميليون شاگردانو سره په دي هيوادکي موجودي دي . چي نورهيوادونه لکه کويت او سعودی عربستان هر کال په لسها و ميليونو ډالرد دغو ديني مدرسو په واک کي ورپريږدي. دطالبانو اوسلفی پلوي مشران خپل اصلي قوت د فقيرو او بيوزلو ځوانانو څخه را اخلي . د ملگروملتو دسازمان د رپوت پراساس، فقراو لوږه په شدت سره د پاکستان د ۱۶۰ ميليون نفوس کي مخ په زياتيدو ده .رپوت د دي هيواد د وگړوفقر په سلو کي ۴۰ فيصده ښيئ .(دوشي چي، آريائي سايت)
ډاکتر خوشحال روهي،پخپل يوه تحقيقي مقاله کي د پاکستان د اهدافو په افشاکولوکي په ډيردقت سره مهمي ټکي ته اشاره کوي او داسي ليکي:«که پخوا به انگريزانو (فاټا) سيمو ته يوازي د افغانستان او روسانو په وړاندي د بفر زون (حايل سيمي) په سترگه کتل او له تمدن څخه يي محروم ساتل ، نوجنرال ضياء دغو سيمو ته په افغانستان کي د يوه لاسپوڅي حکومت پر لوري د پل په سترگه کتل او غوښتل يي له يوي خوا د تل لپاره د ډيورنډ له ستونزي څخه ځان بي غمه کړي او له بل لوري افغانستان د هند په وړاندي د ستراتيژيک عمق لپاره وکاروي . په دي مانا چي يو به وروسته پاتي او تحت الحمايه افغانستان او قبايلي سيمي د کشمير په جگړه کي د مجاهدينو بي پايه زيرمي برابري کړي او بل که اړتيا پيښه شوه لکه ستالين ، چي په دويمه نړيواله جگړه کي يي د جرمني له بريد څخه خپل پوځي درانده صنايع د ختيځ خواته انتقال کړل ، دوي به خپل درانده صنايع افغانستان ته انتقال کړي . "
ډاکتر روهي ادامه ورکوي:"ضياءالحق په همدي موخه د افغانستان د خپلواکی(دشورويانو) په جگړه کي روڼ اندي او ملتپاله ډلي بي دريغه وټکولي او د خپلي خوښي تنظيمونو ته يي وده ورکړه او بهرنۍ مرستي يي د همدوي تر منځ ووېشلي . همداراز ده د پاکستان د ننه د پښتون نشنليستانواو پښتونستان داعيي د ځپلو لپاره هم په پښتنو سيمو کي اسلامي ګوندونو ته وده ورکړه . په ۱۹۹۶ کال کي د فاټا په سيمه کي ټولو بالغو کسانو ته د رأيي حق ورکړل شو ، څرنگه چي ملي ـ سياسي ګوندونو د کانديدکيدو حق نه درلود نو تر ټولو زياتي رأيي ملايانواو په ځانگړي توگه د مولانا فضل الرحمن د جميعت العلما ګوند غړو تر لاسه کړي . همداراز په وروستيو ټاکنو کي اسلامي ګوندونه په صوبه سرحد او صوبه بلوچستان کي بر لاسي شول او په صوبه سرحد کي د اسلامي ګوندونو ايتلافي (متحده مجلس عمل) حکومت رامنځته شو. د دي تر څنگ که په مرکزي اسامبلۍ کي پخوا اسلامي ګوندونو ټول ټال ۷ کرسۍ درلودې نو دا ځل يي ۱۰ نوري پرې ورزياتي کړي او ۱۷ ته ورسيدي . جميعت العلمأ ، چي د پروېز مشرف د حکومت يوه اساسي ستن اود طالبانو مهم ملاتړي ګوند دي ، تر ۲۰۰۱کال وروسته يي طالبانو ته د آي اس آي په مرسته پراخ پناه ځايونه ورکړل.» (ډاکتر روهي ، په پاکستان کي وروستي بحران او طالبيزم، اسمائي سايت)
اوس هرڅوک په دي پوهيږي چي په قبايلي سيمه کي نن افراطيت او اسلامي بنسټ پالنه دومره پياوړي سوي ده چي نن ورځ آن ۸۰ تر ۹۰ فصيده خلک د شيږواسلامي بنسټپالو ګوندونو (جمعيت علماي اسلام (فضل الرحمن)، جمعيت علماي اسلام (سميع الحق)،جماعت اسلامي، جمعيت اهل حديث، حزب اسلامي و حزب تنظيم اسلامي) يعني د(متحده مجلس عمل) پسي روان دي . په دغو ګندونو کي دوه ډير سخت دريځ ګوندونه(جميعت العلماي اسلامي، اوجمات اسلامي) دي . خو په شمالي او جنوبي وزيرستان کي د مولوي فضل الرحمن نفوذ او دمهمند او خيبرپه سيموکي دقاضي حسين احمد نفوذ ډير زښت زيات دي . د دوي ترڅنگ په جنوبي وزيرستان کي د مولوي بيت الله مسود قوت او په باجوړ اوصوات کي دمولانا فضل الله نفوذاوس د يادولو وړدي.. دا څلور واړه افراطي رهبران پښتانه دي او د

افغان جرمن آنلاین شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

دوي په يوه غږدسيمي پښتانه خپل سرونه ورکوي . موږ دتلويزيون له لاري ليدلي او وينو چي د دوي دطالبانيزم کارخاني (مذهبي مدرسي) په قبايلي سيمو کي په شدت سره فعالي دي او پکي طالبان او تروريستان روزل کيږي او بيا افغانستان ته صادريږي تر څود افغانستان دخلکو د آرامي اوسوکالي مخه ونيسي.
دادي شپږ کاله سوه چي طالبان دقبايلي سيمو دمذهبي رهبرانو په فتواګانو اودقبايلي خلکو په ملاتړ اومرسته مسلح کيږي او د آي .اس . اي . په لار ښونه زموږخاوري ته ننوځي او خپل تخريبي عمليات ترسره کوي او بيرته پاکستان ته ورګرځي . د دغو بنسټپالو پښتانه رهبرانوپه لمسون د افغانستان جنوبي اوشرقي سيمو باندي دپشتانه طالبانو اودخارجي ځواکونو دبريدونو او جنګي عملياتو له کبله پرخلکو ژوند په دوږخ بدل شوي دي. که چيري دغه رهبران خپلوپلويانو ته همدا سبا فتوا ورکړي چي بس دي نور نو دا جنګ دافغانستان د اسلامي دولت په مقابل کي يو ناروا جنګ دي،بيله شکه زموږ په وطن کي به دجنګ د اور لمبي پورته نشي، خو د اکار دوي نه کوي، ځکه چي دوي دپاکستان دنظامي استخباراتو(آي .اس. آي.) پخواني اجنتان دي او د دغي جهنمي سازمان څخه بي حسابه ګټي ترلاسه کوي او په بدل کي موږ ته دجاهل افراطي طالبانو په ذريعه ، ځاني،مالي،اقتصادي،اجتماعي، کلتوري او سياسي تاوانونه رسوي، مګر موږ دهغوي پرسر خپل ملي امنيت ،سياسي ثبات ،اقتصادي توان، فرهنګي او تعليمي شتمني له لاسه ورکړي ده .
په تاسف سره بايد ووايم چي طالبان ټول هغه افراطي ډلي دي چي دپاکستان په قبايلي سيمو کي د ديوبند په مدرسو کي ډيرسخت دريځه سلفيان روزل کيږي او د اسلامي شريعت دتحقق په پلمه په خشونت او قهرلاس پوري کوي او دخپل محدود او متحجرفهم څخه هاخواجازه نه ورکوي چي څوک لاس دپښې څخه خطا کړي .په قبايلي سيموکي .طالبان ټول پښتانه دي . او دپاکستان د قبايلي سيمو څخه زموږسرحدي پښتنوسيمي ته را ننوځي . او خپل تخريبي عمليات ترسره کوي او بيرته پاکستان ته ورګرځي .خو داثابته ده چي د دوي سره د پښتنولي او افغانيت هيڅ احساس نسته ، او که واي نو ولي زموږ دوطن د پښتنو آرامه ژوند تباه کوي؟ ولي زموږ مکتبونه سوځوي؟ ولي معلمان وژني؟ ولي دتعليم او تحصيل او دعلم دښمنان دي؟ زموږ اولادونه خو په مکتب کي سواد او علم زده کوي،ترڅو پخپل ښه او بد پوه سي، او په آينده کي دخپل هيواد په اقتصادي ، سياسي ، اجتماعي او فرهنګي فعاليتونو کي ونډه واخلي او هيواد ته خدمت وکړي اوله دي لاري نه دخپل شخصي ژوند دهوسايني له پاره امکانات ترلاسه کړي،نوولي دوي زموږ اولادونه د تعليم او سواد له نعمته محروم او بي برخي کوي؟ دا ټول په دي خاطر زموږ پرخلکوباندي تطبيقيږي چي پاکستان نه غواړي زموږ اولادونه په خپل وطن کي دعصري علومواو ننی تکنالوژي امکاناتو څخه برخمن سي، د پاکستان نظامي استخبارات(آي .اس. اي) دناپوه طالبانو په ذريعه زموږ مکتوبونو ته اور وراچوي، دښوونځيو دروازي تړي او معلمان، علما اودقومي مشران وژني تر څوزموږ اولادونه له بي سواده پاته سي او دعصري علوموڅخه برخمن نشي. د دوي په نظر عصري مکتبونه دالحاد او کفر ځاي دي اود انسان دپاره صرف دشريعت زده کړه کفايت کوي. خو دوي په خپل دغه ډول کړو وړوغواړي زموز وطن بيرته ۱۴۰۰ کال په شا وغورځوي.
متاسفانه طالبان نه يوازي د علم ،فرهنګ،هنر او تمدن سره دشمني لري او د وطن تاريخي آثار دتوپ او توپک په وسيله له مينځه وړي، بلکي د علمي موسساتو او صحي مرکزونو اوحتي دپاخه او ډمبر سړکونو په مقابل کي هم خپل ضديت او دښمني شيي.دبيلګي په توګه دجنوري په ۲۲ ويشتمه نيټه کي دوي دګرشک په ولسوالي کي هغه موټرانو ته اور ور واچول چي شګي او جغلي راوړلي او ددوو موټر وانانوسرونه ور پري کړل.(بي بي سي ۲۲جنوري)
اوس غربي هيوادونه غواړي دا وران خاوره او داغم ځپلي خلک له وراني او بيسوادي او ناپوهئ څخه نجات ورکړي . غربي هيوادونه زموږسره کومکونه کوي او په دي پوه سوي دي چي فقر او بيسوادي ترټولو مرضونو لوي مرض اود دهشت اچوني او تروريزم اصلي عامل دي، نو دوي غواړي دغه مرض زموږ له هيواد څخه ايسته کړي. دوي اوس خپل انساني لاسونه را اوږده کړي دي، چي موږ ته شفاخاني اوصحي کلينيکونه را جوړ کړي او داکتران وروزي اوزموږ ناروغان او بي درمل خلکوته دوا او درمل برابره کړي او زموږ بيوزله خلک له ناروغئ او بدبختي څخه راخلاص کړي، پرسندونو باندي بندونه اود تجارت او مواصلاتو دپاره سړکونه جوړ کړي او طبيعي زيرمي او منابع په کار واچوي ترڅو دبزګرانو اوبيکار خلکوته کار برابر سي،او داسي نور. خو دطالبانو په نظر زموږ خلک اوزموږ بچيان دښه ژوند لياقت نلري. او هغه مسلمانان چي دکافرانو مرستي ترلاسه کوي، هغوي هم کافران دي خو پاکستان هرڅومره مرستي چي دامريکااو نورهيوادوڅخه ترلاسه کوي، خير دي کافرکيږ ي نه.
ښاغلي داکټر سراجي يوه په زړه پوري مقاله په افغان- جرمن آنلاين کي لري چي زما خورا خوښ سو ، دلته دوه پراګرافه رانقل وم
«طالب جانه! ستا په راتګ(کفن کش اوبچه کفن کش) کيسه رښتيا سوه. تا داسي کارونه وکړ چي دپښتون نوم، فرهنګ او شوکت دي له خاوروسره برابرکړ،او لوړه شمله دي ورته په ځمکه را وويشته.لمړي تا خپله وژنه،

افغان جرمن آنلاین شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

سوځنه، دښونځي بندونه، وراني دپښتون دکورنه راپيل کړ.بيائي دافغان په کورکي دورونو ميشتوقومونوترمينځ دنفاق اور بل کړ..دانجوني شونځي دي وتړلي،ښځينه کارکونکي دي په کور کښينولي. دافغانستان تاريخي آثار چي د ددي خاوري دتيرونسلونو، دپرتمين تاريخ او وياړ نښه وه، به توپو ويشتل. په شلمه پيړي کي دي وحشت او غضب توره دوره را وسته. زموږ ملي عنعنوپرخلاف دي پرښځولاس پورته کړ. دخلکولاڅه چي حتي دماشومانو له خولي دي خندا او خوشي واخيسته. وطن دي په لوي زندان بدل کړ او په دي توګه دي دپوهي، فرهنګ او پښتونولي ضد خپله توره څيره وشووله .

داکتر سراجي خپلي ليکني ته داسي ادامه ورکوي: طالب جانه!.تاسره نه د وطن (مور) مينه سته او نه له قام سره زړه سوئ . ته نه دخپل وطن له تاريخ نه خبر ئي او نه دپښتونولي ماهيت څخه . ته دبل په لاس جوړشوي(مصنوعي نانځکه)ئي. چي هغه هرخه درته وائي،ته ئي ورسره کوي. اوس دي هم دتوپک خوله وپښتون ته نيولي او هره ورځ دپښتون بچي د وينو په څشلو خپله تنده ماتوي. تا دپښتون قام دفزيکي او معنوي نابودي ته ملا تړلي ده. ښونځي سوځي،ښونکي ،علما، او دقوم مشران وژني، او بيادجهاد نوم ورباندي ږدي.

مشرف وائي چي "قبايل"(پښتانه) قاتلان اوترهګر دي.خو تا دا په عمل کي نړيوالوته ښيي چي څوک يي او دکوم فرهنګ خاوندئي؟ دکړو وړو دي معلوميږي چه ته پښتون نه ئي، خو څه وکړو چي دپښتون دشمنان ستا نوم دپښتون سره يو بولي او په دي توګه ستا ټول غير انساني، غير اسلامي او غير افغاني کړونه په پښتون قوم پوري تپي.»
افغان- جرمن١٨ جنوري)

خو دلته د داکټر سراجي په تائيد دا ټکي دیادولو بولم چي همدا اوس د ډيورنددکرښي په دواړو خوا سيموکي فقط طالبان جنګي او تروريستي عمليات ترسره کوي .او هرڅومره خلک چي دډيورند کرښي په هاخوا او ديخوا يعني په پاکستان او هم په افغانستان کي وژل کيږ ي،دا ټول پښتانه دي. په دي خاطرنن په بين المللي سطح کي پشتون قام د تروريستانو په نامه پيژندل کيږ ي .دپاکستان داوسني حکومت داستراتيژي يوه مهمه برخه قبايلي پشتانه بدنام کول دي چي د دوي دځپلو دپاره بايد يوه پلمه ولري . بين المللي جامعه هم د تروريستانو په دمينځوړلو کي توافق نظر لري او دپاکستان دحکومت څخه حمايت کوي خو دا دپښتنوتعليم يافته او په اصطلاح روشنفکران دي چي د پاکستان او دغرب په دي سياست چنداني سر نه په خلاصوي او دخپل قام دژغورلو دپاره کوم اساسي چاره پسي نه ګرځي اوخان ته حرکت نه ورکوي. چي دسړي د نا اميدي سبب کيږ ي.

زموږ په هيواد کي تيرکال شپږ نيم زره (٦٥٠٠) ملکي او دولتي خلک د طالبانو او ايتلافي قوتونو په بمونو،ګولي او انتحاري عملياتوپه وجه په قتل رسيدلي دي. چي په دي حساب هره ورځ ٢٠نفرزموږ دخلکو څخه مړه سوي دي. ښايي په دغه اندازه ژوبله هم خلکو ته آوښتي وي. اټکل کيږي چي په تيره شپږو کلونو کي نژدي شل زره افغانان وژل سوي وي. خو په دي جګړو کي ٤٠٠ تنه امريکائي سرتيري هم خپل ژوند له لاسه ورکړي دي او له دي کبله د دوي چيغه اسمان ته ختلي دي، خکه د دوی په وينو کي دموکراسي جريان لري خودافغانان په وينه کي اوبه ياتروريزم ،.همدي وجه ده چي زموږ دحکومت او دخلک ږغ نه پورته کيږي..سږ کال خوتر پروسکال هم زياتي انتحاري عمليات په کندهار، کابل،هلمند، کنر، ،پکتيکا ، خوست، بغلان ، کندُز اونورسيموکي تر سره سوي دي چي يوتعدادبيګناه خلک خپل ژونددلاسه ورکړي دي . که دا جګړه لس کاله نورهم دوام وکړي ، خداي پوهيږي چي څومره خلک خپل ژوند له لاسه ورکړي؟

ښاغلي هاري دپاکستان پراوضاع باندي ډيري شي ليکني کوي او پخپل يوه ليکنه کي داسي ليکي :" پاکستان تل کوښښ کړی دی چي په افغانستان کي يو منحطه، وروسته پاتي، او مذهبي ډله حاکمه وي. داسي ډلي چي د عصري علومو مخالفي وي، مکتب وسوځي او معلم شهيد کړي، او لنډه داچي د افغانستان د سياسي استقلال او برم اداني وراني او ويجاړي کړي د جهاد په دوران کي، دپاکستان سره پدي تاريخي شرارت کي امريکا هم دخپله وه. سي .اي .ي او اي.ايس.اي په ګډه او اخوت د افغاني مذهبي ډلو ملاتړ کاوه چي بالاخره يي رباني، حکمتيار، ملاعمر ، بن لادن، مسعود او سياف وړيږول. ."(بينوا سايت)

يوه عجيبه خبره داده چي د باره په قبايلي سيمه کي دلښکر اسلام ترنامه لاندي،يوه افراطي ډله دمنګل باغ په مشري خلکو ته امر کړي دي چي اسلامي کالي واغوندي اوهره کورني خپل هغه قبرونه چي په زينتي ډبروسمبال کړي وي، بايد د يوي هفتي په ترڅ کي وران کړي او کنه نو لس زره کلدار به جريمه شي. همدارنګه ټول خلک مجبور دي چي دلمونځ دأداکولو دپاره په پنځه وختونو کي مسجد ته حاضروي او هرڅوک چي حاضر نه وي، غيرحاضر سي ، دغيرحاضرانو څخه به پر هروخت جريمه واخيستل سي.

داسي ښکاري چي اوس طالباني اسلام د قبايلي سيمي څخه موږ ته را صادريږي او زموږ خلک مجبوربه وي چي د دغو بيسواد اومتحجرو ډلوترحکم لاندي ژوند وکړي. زموږ اولادونه بايد عصري مکتبونو ته ولاړ نشي، د عصري اومدرن ژوندون څخه بايد بي برخي وي،زموږښځي دکورونوڅخه ونه وزي او کار ونکړي،اوزموږ انجوني بايد

افغان جرمن آنلاین شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

مطلقاً بیسواده پاته سي. اوپه دي ډول دافغانستان نیم بدن عاطل او دکار او تعلیم څخه محروم اوبه تر ټولو هیوادونو یو وروسته پاتي هیواد وي .تردي حده چي د یوې ګولي ډوډي دپاره به پاکستانیانولاس ته محتاج وي، د ژوند ټوله ضروریات باید دخارج څخه را وارد کړي او یوازني شیئ چي کولاي شي صادرکړي ، هغه به تروریزم وي. آیا تردغسي شرایطو لاندي ژوند کول تر دوژخ بد تر نه دي ؟

د ډاکتر خوشحال روهي په قول، دپاکستان په قبایلي سیموکي اوس "مذهبي او ترهګرو ډلو په ډېرو سیمو کي هڅي پیل کړي ، چي قانون پخپل لاس کي واخلي او موازي حکومت رامنځته کړي . په نتیجه کي په ډېرو سیمو کي د قانون واکمني له منځه تللي اود بېلابېلو ملېشو ، اورپکو ډلو او یاهم مذهبي پولیسو واکمني منځته راغلي او د صوبه سرحد په ځینو سیمو کي خبره بېخي د انارشی تر کچي رسېدلي . همداوس په ټانک ، د ادم خېلو دره او دېره اسماعیل خان کي طالب ډوله ملېشي واکمني شوي او د مومند ایجنسی او پېښور ترمنځ سیمو پر سر مبارزه روانه ده . په شمالي وزیرستان ، جنوبي وزیرستان او باجوړ کي خو د طالبانو بشپړه واکمني چلېږي او تقریباً هره ورځ یو څوک بهرنیو ځواکو نواو یا د پاکستان حکومت ته دجاسوسی په تور ځړېدلي او یا یي سر پرې شوي وي .

د مذهبي ډلو ګواښونه ان تر پېښوره هم رسېدلي دي .په بنو کي طالبانو یوه کمېټه جوړه کړې او پر هغو خلکو یي ۵۰۰۰کلداري جریمه لګولې ، چي څوک پر نڅا ، موزیک اورېدلو ، تلویزیون کتلو او یا په موبایل کي د موزیک پر کښته کولو ونیول شي . د راپورونو له مخي د بنو د پولیسو آمر هم له دغي کمېټي څخه ملاتړ کړي او ویلي یي دي ، چي پولیس به له دغه کمېټي سره د فساد په ورکولو کي مرسته وکړي . په مردان کي د ښوونځیو نجونو ، تر ګواښل کېدو وروسته د حجاب اغوستل پیل کړي او سلمانیان د ږیرو له خریلو څخه منع شوي . په پېښور ، کوهاټ او دره ادم خېل کي د سي ډي او وېډیو یو شمېر هټی الوزول شوي او په لکي مروت کي د یو شمېر سندرغاړو سرونه او برېتونه خریل شوي دي . په صوبه سرحد کي حکومت په ښکاره د همدغو طالبانو دفاع کوي او غواړي په خپله هم طالبي نظام پلي کړي . څه موده وړاندي په صوبه سرحد کي د متحده مجلس عمل حکومت د شریعت د نفاذ یوه لایحه پخپل پارلمان کي پاس کړه او مرکزي پارلمان ته یي واستوله او دا ګواښ یي هم ورسره وکړ ، چي که لایحه رد هم شي دوي به یي پخپله صوبه کي خامخا پلي کوي . د متحده مجلس عمل حکومت ویلي ، چي پر موزیک او نڅا به بندیز ولګول شي ."(داکتر روهي، اسمائي سایت)

طالبان په افغانستان کي د یو داسي اسلامي حکومت د مینځ ته راوړلوپه خاطر خپلي انتحاري عملیاتو ته شدت ورکړي دي ،چي اوس په قبایلي سیمو کي ددوي امر ونهي چلیږي .خو زموږ په هیوادکي تر اوسه هغه دوره دخلکود اذهان څخه نه ده هیر سوي چي په ټوله هیواد کي فقط یو اخبار د«شریعت اخبار»په نامه خپریده او یو راډیو د«شریعت راډیو»په نامه صرف د ۶ ساعتو دپاره خپري دلي او افغانستان دیو(بي صوت اوبي صورت) هیواد په نامه په نړي کي شهرت موندلي و..دادي اوس په افغانستان کي دعلماو دشورا ، غواړي د پاکستان دطالبانو په تقلید، اسلامي شریعت په افغانستان کي پلي کړي . په شونځیو کي ملایان مقرر کول ، اوپرتلویزیوني نشراتو کي په غیرمنطقي پلموبندیزلګول، دا پیغام دځانه سره لري چي ډیرژر دخلکوپر ږره او کالي ،هم بندیز لوګول کیږي او خلک کرارکراربه د ټلویزیون ، سینما ،موزیک او انترنت له مزایا څخه بي برخي شي.

دجنوري دمیاشتي په ۲۳ مه یو ځوان ژورنالیست (پرویز کامبخش)چي د بلخ دپوهنتون دژورنالیزم دپوهنځي محصل دي، دابتدائي محکمي له خوا (د علماء دشورا په سپارشتنه) په اعدام محکوم سو. د ده ګناه څه و؟ ایا دبشرحقوق ئي ترپښولاندي کړي دي؟ نه، ایا په جنګي جناياتو متهم دي؟ نه. ایا دخلقوپرناموس تیر ي کړي دي؟ نه. ایا کوم ملي خیانت ترسره کړي دي؟ نه. ایا خپل له دین څخه یي انکار کړي دي؟ نه. که یي له دین څخه انکارهم کړي وي، پس له توبي څخه بخښل کیږي، خو دغه ځوان تر اوسه په پورتني ګناهونو او جرمونو په یوه کي هم نه دي متهم او ورباندي نه ده ثابته سوي.. آیا دیوانسان ژوند په اساني سره اخیستنه، د موکراسي ده که سوتئ کراسي؟ معلومي.ي چي دغسي چلند سوتئ کراسي ده چي ښائي طالبان هم تراوسه په دغسي صغیره ګناه چاته داعدام حکم صادر کړي نه وي.!دپرویزکورنۍ او ملګري وایي چي د محاکمي بهیر غیر عادلانه وؤ ځکه نوموړي ته دا اجازه نه وه ورکړل سوي چي مدافع وکیل ولري.په ورته وخت کي دخبریالانو نړیوال فدراسیون (اي، اف، جي) ویلي چي دپرویز محاکمه آزاده نده تر سره سوي او په دي سربیره هغه ته دا حق نه وؤ ورکړ سوي چي مدافع وکیل ولري. دپرویزکامبخش په اړه داعدام دحکم خبر تیره ورځ او نن سهار په ټولو غربي مطبوعاتو کي په پراخه کچه خپور سو او نړیوال عکس العملونه یي را وپارول. دخبریالانو دملاتړ یو شمیر په هیوادکي دننه او نړیوالو ټولنو کي دبلخ دمحکمي دغه حکم غندنه وکړه.دمحکمي دي پریکړي ته په لومړي سر کي د بي سرحدوخبریالانو نړیوالي ټولني او داروپا داتحادیي نماینده او په کابل کي دملګرو ملتونو نماینده (یونیما) قهرجن غبرګون ښودلي او دجمهور رئیس څخه دکامبخش دخوشي کیدو غوښتنه یي کړي دي.

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د دوطن نامتو روحاني عالم (ایت الله محسني) د آلمان د برغ راديو سره په مرکه کي په دي اړه وويل: چي« يوه ديني ضد ليکنه يا کتاب درلودل، د بي ديني دليل نسي کيدلاي. او حتي داسي يوه ليکنه نوروته ورکول هم داعدام دجزا دپاره دليل کيداي نسي. خود دويمي اتهام په صورت کي محکمه متهم ته داعدام نه پرته يوجزا ورکولاي شي..»(دويچه ويله)

خومور بايدپه دي پوه شو چي طالبانيزم او اخوانيزم په خپل سرشت کي يوتربل په کمه نه دي او زمورد وطن دپاره دواړو لوي مصيبتونه راوړي دي .په دغه سبب دادي ديرش کاله وسوه چي جګړه ،ورانئ او انسان وژنه زمور په وطن کي را روانه ده . .مور بايد په دي پوه سو چي تر څو دغه دواړه شوم اومخرب پديدي زمور په ملک او په منطقه کي په سياست کي مداخله وکري اوسياست د دين څخه جلا نسي،د منطقي خلک دارام ژوند مخ به ونه ويني او افغانستان هميش دترقي او انکشاف له ګړندي کاروان څخه پر شا پاته او ديووروسته پاتي هيواد په حيث دايم خپل ګاونډي هيوادونو ته به محتاج وي.....

پاي

افغان جرمن آنلاین شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de